**په ټولنه کې د بانکونو اړتیا**

په هره ټولنه کې یو شمېر داسې کسان هم شتون لري چې د نغدو پیسو پر لرلو سربېره دیو شمېر نورو دلایلو پر بنسټ نه شي کولای چې په بانکونو کې پانګه اچونه وکړي. دا کسان کیدای شي چې د وخت د کمښت او یا د تجربې د کموالي له کبله، د سوداګرۍ په سکتور کې د مدیریت د وړتیا د نه لرلو، د بازار له شرایطو سره د نابلدتیا، د اړین سودا د نشتون له کبله او یا هم نورو خطرونو له مخې و نه شي کړای چې پر خپلو پیسو پانګه اچونه وکړي.

نو په داسې حالاتو کې په ټولنه کې د داسې یوې ادارې د رامنځته کولو لپاره اړتیا لیدله کېږي چې هغه وکولای شي چې له خلکو سره شته پیسې را غونډې کړي او پرې پانګه اچونه وکړي او هغو کسانو ته یې ورکړي چې په خپلو سوداګریزو چارو کې د پانګو له کمښت سره مخ وي.

بانکونه د پیسو د راټولولو لپاره بېلابېلې مرحلې کاروي چې په لاندې ډول په ګوته کېږي:

- بانکونه په لومړۍ مرحله کې د خپلو پېرودونکو د اړتیاوو او غوښتنو له ارزولو وروسته جاري، سپما، د پانګونې زیرمې ( لنډمهاله، منځمهاله او اوږدمهاله) حسابونو د پرانیستلو او نورو خدمتونو وړاندیزونه کوي، ترڅو په دې وسیله د خلکو هغه پیسې چې په کورونو کې یې له پانګې اچونې پرته ساتلې دي، بازار ته وباسي او په کار یې واچوي چې دې عملیاتي چارې ته مالي مهندسي هم وایي.
- په دویمه مرحله کې پروژه او امکانات ارزوی په دې پړاو کې بانکونه پر کارپوه او مسلکي کسان په دندو ګماري، ترڅو په دې وسیله وکولای شي چې په دې برخه کې له تکنالوژۍ په ښه ډول ګټه پورته کړي او چارې په ښه ډول مخته یوړلای شي. په دې مرحله کې بانکونه هغه پروژې په هر اړخیز ډول څېړي چې غواړي پرې پانګه اچونه وکړي. بانکونو د ډېرو پروژو له منځه، هغه پروژې د پانګې اچونې لپاره ټاکي چې کم خطر او زیاته ګټه له ځان سره ولري. بانکونه دا پانګه اچونه د خلکو پر پیسو تر سره کوي، ځکه خو لازمه ده چې پرې هر اړخیزې څېړنې وشي او دا چاره د دې لامل کېږي چې پر بانکونو د خلکو باور ډېر شي او خپلې پیسې په بانکونو کې وساتي.
- په دریيمه مرحله کې د پیسو پر غوره تخصیص فکر کوي، مانا دا چې بانکونه باید خپلې پیسې په داسې برخو کې په کار واچوي چې د پانګې بېرته راستنېدل له ستونزو سره مخ نه کړي. که په داسې برخو کې د پانګې اچونې تر سره شي چې د پانګو بېرته ستنېدنه له ستونزو سره مخ کړي. په دې سره بانکونه خپل باور له لاسه ورکوي او خلك په بانکونو کې د پیسو ساتنې ته زړه نه ښه کوي. کوچني سوداګریز بانکونه تر ډېره د پورونو په ورکولو سره د شرکتونو سهمونه اخلي او په بهرنیو پرمختللو بانکونو کې زېرمې رامنځته کوي. په پرمختللو بانکونو کې د زېرمو رامنځته کول او پانګه اچونه له خطره خوندي او د پانګې بېرته ستنیدنه یې هم آسانه ده.

په لنډ ډول ویلای شو چې بانکونه د په ټیه ولاړو پانګو لپاره تر ټولو غوره ځایونه دي چې پانګې په کې را غونډې شي. د دې پانګو را غونډول نه یوازې دا چې له هغو سوداګرو او شرکتونو سره مرسته کوي چې د پانګو له کمښت سره مخ دي او په ټوله کې د هېواد د اقتصادي وضعیت د ښه والي او پرمختګ په برخه کې هم مهم رول لوبوي.

دا چې افغانستان یو جنګ ځپلی هېواد دی او ډېر شمېر وګړي یې لا هم پیسې په خپلو کورونو کې ساتي، نو پر دې بنسټ که سوداګریز بانکونه د دې خلکو لپاره داسې وړاندیزونه وکړي چې پر مټ یې خلك دېته زړه ښه کړي چې خپلې پیسې په بانکونو کې زېرمه کړي په دې سره به نه یوازې دا چې بانکونه ګټه وکړي، بلکې هغه نغدې پیسې به هم چې اوس مهال په کورونو کې ساتل کېږي په کار واچول شي او د بازار د خوځښت لامل به شي.

حسیب الله نوري

**سرچینې:**


افغانستان ما/ 1396 – عبدالله غفاری

http://www.dailyafghanistan.com/opinion_detail.php?post_id=141199

Why do we need banks?

https://www.quora.com/Why-do-we-need-banks